بسم الله الرحمن الرحيم

# دکرنې اومالدارۍ وزارت داجراآتو اوفعالیتونو دتنظیم مقرره .

دکرنې اومالدارۍ وزارت
داجرا آ تو او فعاليتونو
دتنظيم مقرره
لومړی فصل
عمومي حکمونه

لومړۍ ماده :
دغه مقرره دافغانستان اسلامي امارت دوزارتونودتشکيل اوددندودعمده اصولو دقانون داووه ويشتمي مادې له حکم سره سم دکرنې او مالدارۍ وزارت داجراآتو اوفعاليتونو دتنظيمولو په مقصد و ضع شوې ده .

دوه يمه ماده :
دکرنې او مالدارۍ وزارت امارتي مرکزي اداره ده چې دهېواد دامارتي برخې اوانفرادي بزګرانودکرنې اومالدارۍ عمومي لاربنوونه په غاړه لري.

دريمه ماده :
دکرنې او مالدارۍ وزارت په خپلو فعاليتونو کې دافغانستان اسلامي امارت دقوانينو اوفرمانونوحکمونه

مقررهٔ تنظيم اجرا آ ت وفعاليت
های وزارت زراعت
ومالداری
فصل اول
احکام عمومی

مادهٔ اول:
اين مقرره مطابق به حکم مادهٔ (۲۷)قانون اصول عمدهٔ تشکيل ووظائف وزارت های امارت اسلامی افغانستان به منظورتنظيم اجراآت وفعاليت های وزارت زراعت ومالداری ،وضع گرديده است.

مادهٔ دوم :
وزارت زراعت ومالداري ادارهٔ مرکزی امارتي بوده که رهبری عمومی زراعت ومالداري را دربخش امارتي ودهاقين انفرادي کشور به عهده دارد.

مادهٔ سوم :
وزارت زراعت ومالداری درفعاليت های خود احکام قوانين وفرامين امارت اسلامی افغانستان،تصاويب شورای وزيران

دوزيرانوشورئ تصويبونه اوددغې مقررې حكمونه دخپل عمل ملاک (لاربنود) گرزوي اودخپلو فعاليتونو په ساحه کې دهغو سم تطبيق تأمينوي .

دوه یم فصل

عمده دندې اوواکونه

څلورمه ماده :

دكرنې او مالدارۍ وزارت عمده دندې په لاندې ډول دي :

۱_دخلکو دژوندانه دښه والي اودخو راکي موادو له پلوه دخلکو داړتیاوو دلرې کولو په مقصد، په امارتي كرونددو (فارمونو)،امارتي تصديو او په انفرادی تأسيساتو او ځمکو کې دعلمي اساساتو پر بنسټ دكرنې او مالدارۍ دتو ليداتو هراړخيزه پرمختيا، صنائعوته داومو موادو برابرول او بهرته دهغو صادرول .

۲_دهرې ولسوالۍ دتوليدي ونډې دښلو لوپه هکله په ملي سطحه

واحکام این مقرره را ملاک عمل قرارداده ،تطبیق صحیح آنرادرساحهٔ فعالیت های خود تأمین می نماید.

فصل دوم

وظائف وصلاحیت های عمده

مادهٔ چهارم :

وظائف عمدهٔ وزارت زراعت ومالداری عبارت است از:

۱_ انکشاف همه جانبهٔ تولیدات زراعتی ومالداری مبتنی بر اساسات علمی در مزارع (فارمهای امارتی ،تصدیهای امارتی، تأسیسات وزمین های انفرادی ،به منظوربهبود حیات ورفع نیازمندی های مردم به مواد خوراکه تهیهٔ مواد خام برای صنائع وصدور به خارج .

۲_ طرح وتنظیم پلانهای انکشافي طویل المدت وکوتاه مدت زراعتي.به

دکرنې داوږدې او لنډې مودې دپرمختیائي پلانونوطرحه کول اوتنظیمول او په اغېزمنه توگه دهغود عملي کولو په مقصد دلازموشرائطوبرابرول.

۳_ دکرنې دځمکو،ځنګلونو څرځايونو،ترځمکې لاندې او دځمکې پرمخ داوبو اودبشري قواوو دساتنې اوپه اغېزمنه توگه له هغونه دگټې اخيستلولپاره دلازمو تدبيرونو نيول اوله هغوماشين آلاتو،وسائلواو موادود مالي او تخنيکي آسانتياوونه داغېزمنې استفادې تأمينول چې دامارت له خوا په دې برخه کې برابرېږي.

۴_ دپرمختللي اومعاصرصنعت (تکنالوجی) دکشف او ترلاسه کولو په مقصد دکرنې دعلمي څېړنو تر سره کول او دکرنې د توليداتو دکمي او کيفي ښه والي لپاره له دغه تخنيک اوتجربونه دگټې اخيستلو داغېزمنو لارو چارورواجول.

سطح ملی مبنی بر تفکیک سهم تولیدی هر ولسوالی وایجاد شرائط بهتر به منظور تطبیق موثر آن .

۳_ اتخاذ تدابیر لازمه در جهت حفاظه واستفادهٔ موثر از اراضی زراعتی،جنگلات، علفچرها،آبهای سطح الارضی وتحت الارضی قوای بشری وتأمین استفادهٔ مثمرازماشین آلات،وسائل ومواد زراعتی و تسهیلات مالی وتخنیکی که از طرف امارت در زمینه فراهم میگردد.

۴_ انجام تحقیقات علمي زراعتی به منظورکشف وکسب صنعت (تکنالوژي)پیشرفته ومعاصر وترویج طرق موثراستفاده ازتخنیک وتجارب مذکور درجهت بهبودکمی وکیفی تولیدات زراعتي.

۵_ دامارتي كروندو(فارمونو)ميكانيزه مركزونو(استېشنونو)اوتصديو دجوړولو پراختيااوبشپړتيااودتوليد داغيزمنتوب د لوړوالي په مقصد دهغودمالي او تخنيكي بنسټ دپياوړتياڵپاره دګټوروتدبيرونونيول.

۶_په هېواد كې دكرنې اومالدارۍ دسهامي شركتونودجوړولواوفعاليت په مقصد دآسانتياوو برابرول.

۷_ په ولايتونواوسيموكې په مستقيمه توګه يا په ولايتونوكې دكرنې اومالدارۍ درياستونو يا دسيمه ايزو امارتي ادارولـه لارې دوزارت دټولونماينده ګيود فعاليتونواواجراآتودڅرنګوالي په هكله د رهبرۍ دچاروتنظيمول،اداره كول او څارل.

۸_ دتوليددكمي اوكيفي سطحې دلوړولو په مقصدانفرادي بزګرانو امارتي كروندواونوروارونـدو مؤسسوته دكرنې داصلاح شويوتخمونو،كيمياوي سرې ،دكرنې دماشين

۵-اتخاذ تدابير مؤثر در جهت تأسيس توسعه وتكامل مزارع (فارمهای)امارتي مراكز (استيشن های) ميكانيزه ،تصديها وسائر تأسيسات مورد ضرورت وتقويهٔ بنيهٔ مالی وتخنيكی آنها به مقصد بلند بردن موٴ ثر يت توليد.

۶- فراهم ساختن تسهيلات غرض تشكيل وفعاليت شركت های سهامی زراعتی و مالداری در كشور.

۷- تنظيم امور رهبری ، اداره ومراقبت مبني بر فعاليت ها و طرزاجراآت كليه نما ينده گی های وزارت درولايات ومحلات به طور مستقيم يا از طريق رياست های عمو می زراعت ومالداری در ولايات يا ادارات محلی امارتي.

۸- تهيه وتوزيع تخم های بذری كودكيمياوی ، وسائل وماشين آلات زراعتي،مواشي نسلي ،طيور نسلي وسائر وسائل تخنيكي ومادي زراعتي برای دهاقين انفرادي ،مزارع امارتي

آلاتو او وسائلو، نسلي څارويو، نسلي الوتونکو او دکرنې دنوروتخنیکي او مادي وسائلو برابرول او وېشل.

۹ـ دکرنې دتولیداتودسطحې اواغېزمنتوب دلوړوالي په مقصد دبشپړتیائي طرحې (پلان)عملي کول .

**پنځمه ماده :**

دکرنې اومالدارۍ وزارت دکرنې،مالدارۍ،اوبولګولو، ځنګلونو اوڅرځایونو له ساحونه دزیاتې استفادې او اغېزمنې ګټې اخستنې په مقصد لاندې واکونه لري :

**الف** : دتشکیل په ساحه کې :

۱ـ دځمکوله ردیف (کټګورۍ) اود کرنیزوساحو له تصنیف سره سم دځمکې اوځمکې والو تنظیمول اوسمول ، دکرنې ځنګلونو او څرځایونو په ساحو کې د کیمیاوي کرنې(اګروکیمیاوي) اوخاورې پېژندنې دڅېړنو لپاره داغېزمنو تدبیرونو عملي کول او دځمکې دسطحې دنقشې اخیستنې اوڅېړنې

وسائر مؤسسات مربوطه، به منظوربلند بردن سطح کمي وکیفي تولید.

۹ـ تطبیق طرح(پلان)تکاملي زراعتي به منظور بلند بردن سطح مؤثریت تولیدات زراعتي .

**مادهٔ پنجم :**

وزارت زراعت ومالداري به مقصد استفادهٔ اعظمي وبهره برداري مؤثر از ساحات زراعتي ومالداري،آبیاري جنګلات وعلفچرها داراي صلاحیت های ذیل مي باشد :

**الف** : درساحهٔ تشکیل :

۱ـتنظیم وسازماندهي زمین وزمینداران مطابق به ردیف (کتګوري) اراضي و تصنیف ساحات زراعتي تعمیل تدابیر مؤثر در جهت تحقیقات کشاورزي کیمیاوي (اګروکیمیاوي) وخاکشناسي در ساحات زراعتي ، جنګلات وعلفچرهاتهیه وفراهم ساختن نقشهٔ ساحات مذکور وسائر معلومات کار

(جيود يزي او كـــارتوګرافي)داداري پـــه مرسته ددغوساحودنقشواودنقشه اخيستنې په كاركې دنورو معلوماتوبرابرول.

۲_داوبواوبادپه وسيله دځمكې دويجاړېدو دمخنيوي په غرض دلازموتدبــــيرونونيول اودطبيعي حالت په نسبت ددغې ســـاحې دحاصلاتو دسطحې دلوړولو په مقصـــــد دشرائطواووسائطو برابرول .

۳_ دنـــــوې علمـــــي اوصنعتـــــــي (تكنالوجی)داساساتوپربنسټ دكرنې پـــه ساحوكې داوبولګولودشبكې(سيســـــتم)د تنظيمولواودهغې دساتنې اوڅارنـــــې پـــه مقصد دلازمو تدبيرونو نيول .

دميرآبانوپه واسطه دانفــــرادي بزګرانـــو امارتي كروندو اودنورو تأسيساتوله اړتيـــا سره سم داوبوعادلانه ويش او دكرنــــــې دسيمه ايـــزوادارو لـــه لارې داســـتفاده كوونكو كارنده (فعاله) برخه اخيســـتنه.

۴_دڅارويو او الوتونكوله اصلاح شـــويو نسلونونه دګټې اخيستنې اوتكثيرپه ساحه كې له علمي اونوروصنعتي لاروچارونه په هېوادكـــې دڅارويـــو او الوتونكــــــو

نقشه كشي بـــه كمـــك ادارۀ مطالعـــه ونقشـــه بـــرداري ســـــطح زمـــين (جيوديزي وكارتوګرافي ).

۲_ اتخاذتدابيرلازمه به منظور جلـوګيري ازتخريب زمين به وسيلۀ آب وبـــادوفراهم ساختن شرائط ووسائط بلند بردن ســـطح حاصل خيزي ساحۀ مذكور نسبت بـــه حالت طبيعي .

۳_ اخذتدابير لازمه به منظـــور تنظيـــم شـــبكۀ (سيســـتم)آبيـــاري درســـاحات زراعتـــي و حفـــــظ و مراقبــــت آن مبتنـــي براساســـات علمـــي وصنعتـــي (تكنالوجي) جديد .

توزيع عادلانۀ آب مطابق بـــه ضـــرورت دهـــاقين انفـــرادي ،مـــزارع امـــــارتي وسائر تأسيسات توســـــط مـــيرآب هـــا وسهمګيري فعال اســـتفاده كننـــده ګان از طريـــق ادارات محلـــي زراعتـــــي .

۴_ ازدياد همه جانبۀ محصولات حيواني وطيـــــــور در كشـــــــــور از طريـــق علمـــي وصنعتـــــي جديـــــد درساحۀ بهره بـــرداري وتكثـــير نســـل

دمحصولاتوهراړخيز زياتوالی او له سيمه ايزو شرائطو سره سم په دې ساحه کې داغېزمنو تدبيرونو عملي کول .

۵_ دکرنې دتخمونودغوره کولو په مقصددجلا طرزالعمل وضع کول،دنوي ډول آزمايښت کول، دجنس تخليط(ګډول)دهېواددبېلابېلو سيمو دخاورې له مشخصاتو او له اقليمي شرائطو سره سم له کورنيواوبهرنيومنابعو نه دتخم برابرول اوتدارک او له هغه نه دګټې اخيستلودلاروچاروبرابرول،دکرنې دتخمونو دوېش دڅارنې لپاره دتدبيرونو نيول،دمعياردخرنګوالي تثبيتول او دسيمه ايزو شرائطواومشخصاتوله مخې دتخم دکيفيت ساتل .

۶_ دناروغيو اوآفتونو دخپرېدو او په بوټوباندې دحشرو د اغېزو دمخنيوي او دصادراتي موادو دروغتيائي حالت دساتنې اوڅارنې په مقصددبوټو(نباتاتو) دساتنې او قرانطين لپاره دتدبيرونو نيول.

۷_ دځرحايونو دساتنې اوجوړولو دڅارويواوالوتونکودخوراکي موادو

های اصلاح شدهٔ حيواني وطيور وتعميل تدابيرموٴثر درين ساحه مطابق به شرائط منطقوي .

۵_ وضع طرزالعمل جداګانه به منظور انتخاب تخم های بذری آزمايش نوع جديد،تخليط جنس وتدارک وتهيهٔ تخم ازمنابع داخلی وخارجی مطابق به مشخصات خاک وشرائط اقليمي مناطق مختلف کشور وطرز استفادهٔ آن ،اتخاذ تدابير جهت مراقبت توزيع تخم های بذري،تثبيت نوعيت معيار وحفظ کيفيت تخم.مطابق به مشخصات وشرائط محيطي.

۶_ اتخاذتدابيرجهت حفاظه و قرانطين نباتات به منظورجلوګيري از شيوع امراض وآفات وتأثير حشرات بالاي نباتات ومراقبت حفظ وضع صحي مواد صادراتي.

۷_ فراهم آوري تسهيلات دربارهٔ حفاظت و ايجادعلفچرها ،تأسيس دستگاه

دتولید ددستگاوودجوړولو او دخوراکي موادودگدامونواو زیرمه تونونو دجوړولو په برخه کي دآسانتیاووبرابرول او داصلاح شویو نسلونو دبرابرولواوتکثیر له لارې دڅارویو اوالوتونکو دکمیت او کیفیت دلوړوالي لپاره دلازمو تدبیرونو نیول.

۸_دڅارویو اوالوتونکو دساتنې په برخه کې دحیواني طب (وترنری)دفعا لیتونو او خدمتونوتنظیمول، دعمومي نا روغیو تشخیصول او دهغو دکمښت لپاره دعملي اقداماتو تر سره کول،دوقایوي خدمتونو دبرابرولو په وسیله دناروغیو دخپربدو مخنیوی اودحیواني طب(وترنری) روغتیاځایونو (کلینیکونو)دواکسین دبرابرولودمؤسسې دتجزیه ځایونو (لابراتوارونو )او دارتیا وړنورو تأسیساتو دجوړولو له لارې درملنې(تداوي)دپه نښه کولو په وسیله دغوښې ، لبنیاتو،کولمو،پوستکو او وړیو په ګډون دحیواني تولیداتو په ساحه کې دروغتیائي څارنې تأ مینول او ټینګول

های تولید مواد خوراکهٔ حیواني وطیور واعمار گدامها وذخیره گاه های مواد خوراکه واتخاذ تدابیر لازم درجهت بلند بردن کمیت وکیفیت حیوانات وطیور، از طریق تهیه وتکثیر نسل ها ی اصلاح شده .

۸_تنظیم فعالیت هاوخدمات طب حیواني (وترنري)مبني بر حفاظت حیوانات و طیور ،تشخیص امراض عمومي و اقدامات عملي جهت تنقیص آنها جلوگیري از شیوع امراض بوسیلهٔ فراهم ساختن خدمات وقایوي وتداوي از طریق ایجاد درمانگاه ها (کلینیک ها)ومراکز صحي طب حیواني تجزیه گاه (لابراتوار) های مؤسسهٔ تهیهٔ واکسین وسائر تأسیسات مورد ضرورت، ایجاد و برقرار نمودن مراقبت صحي در ساحهٔ تولیدات حیواني ،ازقبیل گوشت،لبنیات، روده،پوست و پشم به وسیلهٔ علامه

او دډول اوسیمي په بېلوبېلو سره دمالدارۍ اوچرګانو دروزنې داحصائیوي ارقامو برابرول اوتصدیقول.

۹_دځرڅایونو دساحې له په پام کې نیولو سره دکوچیانو اوناقلینو داسکانو دچارو تنظیمول.په ځرڅایونو کې داوبو برابرول اوتدارک او دنورو ادارو اوموسسو په همکارۍ دهغوی دڅارویو لپاره دحیواني طبابت (وترنرۍ)دخدمتونو برابرول.

۱۰_داجراآتو اوفعالیتونو داغېزمنتوب دلوړوالي په مقصد په ولایتونو او سیمو کې دکرنې اومالدارۍ وزارت دنماینده ګیو لپاره درهنمودونو (لارښو دونو )اوطرزالعمل (دعملونو دڅرنګوالي)وضع کول.د بېلابېلو ساحو دکرنې دمسلکي مامورینو دروزنې له لارې دکرنې او مالدارۍ وزارت دنماینده ګیو سمبالول اودعلمي او روزنیز وغونډو (کنفرانسونو،سیمینارونو) ورکشاپونو اودنورو علمي محفلونو

ګذاري وتصدیق وتهیهٔ ارقام احصائیوي مالداري ومرغداري به تفکیک نوع ومنطقه.

۹_ تنظیم اموراسکان کوچیان وناقلین بادرنظرداشت ساحهٔ علفچرها،تدارک وتهیهٔ آب در علفچرهاوفراهم ساختن خدمات طب حیواني(وترنري) براي مواشي آنها.به همکاري سائر ادارات وموٴسسات.

۱۰_ وضع رهنمود ها و طرزالعمل ها براي نماینده گی های وزارت درولایات ومحلات به منظور بلند بردن موٴثریت اجراآت وفعالیت ها تجهیزنماینده گي هاي وزارت به وسیلهٔ تهیهٔ مامورین مسلکي زراعتي درساحات مختلف رشد وتکامل دانش مسلکي آنهااز طریق تدویر مجالس علمي

دجوړولوله لارې دهغوی دمسلکي پوهې دسطحې وده او بشپړتيا.

۱۱_ په اړوندوکروندوکې دتوليد دودې اوپرمختياد اساسي شاخصونو ټاکنه او تصنيف اوپه فني اشخاصو(پرسونل)،موادو داوبولګولوپه شبکې،وسائطو،دفتر داستوګنې په ځای اونوروسره دهغوسمبالول.

۱۲_ دبرابرولو اووېش دښه روش درامنځته کولوله لارې،دانفرادي بزګرانو،امارتي کروندو او دنورو تأسیساتوپه واسطه له کیمیاوي سرې،ماشین آلاتواودکرنې له نوروموادونه په اغېزمنه توګه دګټې اخیستلو تأمینول.

۱۳_ په اغېزمنه توګه داړوندوچاروتنظیمولو په وسیله دانفرادي بزګرانو، امارتي کروندو او نورو تأسیساتو،دکرنې اومالدارۍ دمحصولاتو دبازارموندلو،زیرمه کولو لېږدوني اوپلورنې په مقصد دآسانتیاوو برابرول.

۱۴_ نوې کرکیلې ته دتولیدوونکو دلاربنوونې په مقصددکرنې او مالدارۍ

و تربيتي (كنفرانس هاوسيمينارها) وركشاپ ها وسائر محافل علمي .

۱۱_تعين وتصنيف شاخص هاى اساسى رشد وانكشاف توليد درمزارع مربوط وتجهيزآنها بااشخاص فني(پرسونل)، مواد وسائط ،شبكهٔ آبياري، دفتر،محل رهائش وامثال آن .

۱۲_ تأمين استفاده مؤثر از كودكيمياوي ماشين آلات وسائر مواد زراعتي ،توسط دهاقين انفرادي ،مزارع امارتي وسائر تأسيسات از طريق ايجاد روش بهتر تهيه و توزيع .

۱۳_ فراهم ساختن تسهيلات به منظور بازاريابي،ذخيره ،انتقال ،توليد و فروش محصولات زراعتي ومالداري دهاقين انفرادي،مزارع امارتي وسائرمؤسسات به وسيلهٔ تنظيم مؤثرامورمربوط.

۱۴_ نشروپخش دست آوردهاي علمي صنعتي (تخنيكي ) وابتكاري در

په ساحه کې د علمي ، صنعتي (تخنيکي) او ابتکاري (نوښتي) ارزښتونو خپرول او له نويو چال چلندونو او ماشيني کرکيلې نه په کار اخيستلو سره په لرغونو او دوديزو (عنعنوي) لاروچارو باندې دبزگرانو دعادتونو دبدلون په هکله دارونده ماهرانو دفني او علمي اساساتو او سپارښتونو رواجول.

۱۵ _ دکرنې له ټولو تأسيساتو او ماشين آلاتونه په اغېزمنه توگه دکاراخيستلو او گټې اخيستلو په مقصد دزياتو امکاناتو دبرابرولو لپاره داړوندو ادارو په مرسته د کرنې دټولو تأسيساتو او ماشين آلاتو دساتنې او څارنې دچارو تنظيمول او دامنيت تأ منيو ل.

۱۶ _ دفعاليتونو داغېزمنتوب دلوړولو په مقصد، داهليت او دکار له سابقې سره سم دکرنې دفني او اداري کارکوونکو دتشکيل تنظيمول او دقانون له حکمونو سره سم دمعاشونو دورکولو او دوزارت غوره کارکوونکوته دمکافاتو

ساحهٔ زراعت ومالداري به منظور رهنمائي مولدين به زراعت جديد وترويج اساسات وسفارشات فني وعلمي متخصصين مربوط مبني بر تغير عادات دهقانان به شيوه هاي قديمي وعنعنوي بااستفاده از روشهای جد يد وزراعت ماشينی.

۱۵ _ تنظيم امور حفظ ومراقبت و تأمين امنيت ،به همکاري دوائر ذيدخل بر کليه تأسيسات و ماشين آلات زراعتي به مقصد فراهم ساختن امکانات بيشتر غرض استفاده وبهره برداري مؤثر از آنها.

۱۶ _ تنظيم تشکيل کارکنان فني واداري زراعتي،مطابق به اهليت وسابقهٔ کاربه مقصد بلندبردن مؤثريت فعاليت ها ووضع لائحهٔ تاديهٔ معاشات ،اعطای مکافات وجوائز برای کارکنان ممتاز وزارت ،مطابق

اوجائزودورکړي دلائحــې وضـع کـول.

۱۷_ دمؤ سسو،ادارواودامارتي کرونـدو دعوائدو دلوړولو په مقصد دهرارخــيزو مـــالي اوتخنيکـــي آســـــانتياوو برابر ول.

۱۸_ دوزارت دتولـــــــــو ادارو او مؤسســـــــــو دتوليـــــــــداو پراختيادفعاليتونودترسـره کولـو لپـاره ددوراني وجهي ســاتنه او ديــوه مـالي حســابي او رپـوټ ورکولـــو د روش درامنځته کولو او دهغــه دځارنــې پــه مقصد دتدبيرونو نيــول.

۱۹_ داجراآتو داغېزمنتوب دلوړوالي پــه مقصـــد د لائحــو وضـــــع کــــول اودواکونواومکلفيتونو دحدودو دټاکنــې په هکله دهرې اداري دفعاليت دمــاهيت لــه مخــې دتحــرک (خــــوځښت) اودابتکار(نوښت) دروحيې برابرول.

ب :دطرحې(پلان)جوړونې په ساحه کـــې:

۱_ ددقيق برآورد اوڅېړنو پــه واســطه دهــېواد دکرنـــيزو محصولاتودحتمـــي اړتياتثبيتول اودهغې له مخې دولايتونـــو

بـــــه احکـــــــام قـــــــانون.

۱۷_فراهم نمودن تسهيلات همه جانبـهٔ مالي وتخنيکی به منظوربلندبردن عوائـــد مؤسسات،ادارا ت ومزارع(فارم)هـــای امارتي.

۱۸_ نگهداري وجــه دورانـــي بـــرای انجـام فعـــاليت هـــای توليـــد وانکشــــاف کليـــــــه ادارات و مؤسســـات وزارت واتخـــاذ تدابـــير بـــه منظـــور ايجـــــاد يـــــک روش مـــــالي،حســــابي، گزارش دهي ومراقبـت آن.

۱۹_ وضع لوائـــح بــه مقصـــد بلنـد بـــردن مؤثريـــت اجـــراآت وايجـــاد روحيـــهٔ تحـــرک وابتکـــار نظـــر بـــه مـــــاهيت فعــــــاليت هــــــر اداره، مبنـــي بـــر تعيـــــين حــــدود صلاحيـــت هـــا ومکلفيـــــت هــــا .

ب :درساحهٔ امورطرح ريزي(پـــلان گزاري):

۱_ تثبيت ضرورت مـــبرم محصـــولات زراعتي کشور ، بـــه وســيلهٔ بـــرآورد ومطالعات دقيق وبه اســـاس آن، طـــرح

په بېلولو(تفکیک)سره د هېواد داقتصادي اوټولنیزې پرمختیادعمومي شاخصونو له مخې دکرنې دپرمختیا داوږدې او لنډې مودې دپلان طرحه کول اوبرابر ول.
دکرنې په برخه کې له علمي اوتخنیکي سیاست سره سم دعملیاتي پلان طرحه کول.
۲ـ داټکل شویوطرحو(پلانونو)د اغېز من تطبیق په مقصد په خپل وخت ټولو ادارو او موسسو او په ولایتونوکې دکرنې او مالدارۍ وزارت نماینده ګیوته دعمومي اوکلنیوطرحو لېږل.
۳ـ دکرنې په تولیداتوکې داقتصادي،تخنیکي معیارونو دتولیداولګښت دمعیارونو، دسامان آلاتو دزېرمو،اومو موادو، دسونګ دموادو او دحرارتي بریښنادطاقت ټاکنه اوبرابرول او دپلان وزارت ته دهغو وړاندې کول.
۴ـ داړوندو ادارو دتصویب شویو معیارونو له مخې دکرنې او مالدارۍ دمحصولاتو دبیو تثبیتول او داړوندو مراجعوپه ګډون دپلان وزارت له لارې دهغو ټاکنه.

وترتیب پلان طویل المدت و قصیرالمدت انکشاف زراعت با تفکیک ولایات وهم آهنگ به شاخص های عمومي طرح (پلان)انکشاف اقتصاديواجتماعي کشور.
طرح پلان عملیاتي مطابق به سیاست علمي و تخنیکي دربخش زراعت.
۲ـ به مقصد تطبیق موثر طرح (پلان)های پیشبیني شده ،ارسال به موقع طرحهای عمومي وسالانه به تمام ادارات وموسسات ونماینده ګي های زراعت درولایات .
۳ـ تعین وترتیب معیارهای تخنیکي اقتصادی،معیارهای تولید ومصرف،ذخائر سامان آلات،مواد خام، مواد سوخت ونیروی برق حرارتي در تولیدات زراعتي وارائه آن به وزارت پلان .
۴ـ تثبیت قیمت محصولات زراعتي و مالداري،به اساس معیارهای تصویب شده ادارات مربوط وتعیین آن از طریق وزارت پلان به اشتراک مراجع ذیدخل.

۵_ په ټولو ادارو ،مؤسسو ،امارتي کروندو او په اړوندو ولايتـــي او ســيمه ايــزو نماينده ګيو کې دپلان جوړونې،محاســبې او درپوټ ورکولو د واحد نظام جوړول اوعملي کول.

۶_دهېواد له اقتصادي شرائطو او اړتياوو سره سم دنويو نســلونو دبرابــرو لــو دبوټو (نباتاتو)دجنس دګډولواودڅارويــو او الوتونکود القاح په مقصد دکرنــې او مالدارۍ په توليدا توکي دعلمي اودنــوې صنعت (تکنالوجي) پربنســټ دپلانونــو برابرول او عملي کول.

ج :دودانولو چارو په ساحه کــې :

۱_ دامـــــارتي کروندواودمېکـــــانيزه مرکزونو(استيشـــنونو) پــه ســاحو کې دودانولو دچارو پرمخ بيــول،لــه مــالي توان سره سم دفعـــالوپـــروژو پراختيــا اودکرنې په ســـاحه کــې دودانولـــود پروژو ځاي پرځاي کـــول.

دپورتنيودندودترسره کولو پـــه مقصـــد په وزارت کې داختصـــاصي ســـاختماني دستګاه جـــوړول.

۵_ تنظيـــم وتطبيـــق نظـــام واحـــــد پلانـــــګذاري،محاســـــــبه وګزارش دهي درکليه ادارات ،مؤسسات،مـــزارع امـــارتي ونمـــاينده ګي هـــاى ولايتـــي ومحلي مربوط.

۶_ ترتيب وتطبيق طرح هاى مبتني بـــر اساســـات علمـــي و صنعتـــــي (تکنالوجي)جديد در توليدات زراعتـــي ومالداري،به مقصد ايجاد نسل هاى جديد تخليط جنس نباتات والقـــاح حيوانـــات وطيور، مطابق به نياز منـــدي وشـــرائط اقتصادى کشور.

ج :در ساحۀ امور ساختماني :

۱_ پيشبرد امور ساختماني درســـاحات مزارع امارتي، مراکز(استيشـــن هـــاى) ميکانيزه ،توسعۀ پـــروژه هـــاى فعـــال مطـــابق بـــه تـــوان مـــالي وجـــاګزين نمـــودن پـــروژه هـــاى ســـــاختماني در ساحۀ زراعت .

تأسيس دستګاه ســـاختماني اختصـــاصي در وزارت بـــه منظـــور انجـــــام وظائف فوق.

۲ـ دکیفیت اوکمیت له پلوه دسندونو اودنقشو دبرآورد،څارنه او دغه راز دګټې اخستنې اود پروژو دسپارلو د څارنې لپاره په ټاکلې موده کې دودانولو اودترلو(مونتاژ)دچاروترسره کول.

۳ـ دکارله تفصیلي پلان سره سم دودانولو(ساختماني) بودجې سنجول،دودانولودسامان آلاتو،دکاردبشري ځواک او دودانولو ددستګاه دتخنیکي وسائطو له په پام کې نیولو سره دنقشې بر آورد.

د:دکرنې دموادواوماشین آلاتوپه ساحه کې :

۱ـ دتراکتور،دکرنې دماشین آلاتو،کیمیاوي سرې،درملو،بیولوژیکي او دحیواني طبابت (وترنرۍ) درملو او دسونګ دموادود پیرودنې او وېش لپاره دلازموتدبیرونو نیول .

۲ـ دموادو،سامان آلاتو،دسونګ دموادو او دحرارتي برېښنا دسپما په مقصد دتدبیرونو نیول .

۲ـ مراقبت اسنادوبرآوردنقشه ها از نګاه کیفیت وکمیت و همچنان انجام کارهای ساختماني وبسته کاری (مونتاژ) درمدت معین جهت بهره برداري و مراقبت از تسلیم دهي پروژه ها .

۳ـسنجش بودجهٔ ساختماني مطابق به پلان تفصیلي کار،برآورد نقشه با درنظراشت سامان ولوازم ساختماني قوای کار بشری ووسائط تخنیکي دستګاه ساختماني.

د:در ساحهٔ مواد وماشین آلات زراعتي :

۱ـ اتخاذ تدابیر لازم جهت خریداري وتوزیع تراکتور ماشین آلات زراعتي،کود کیمیاوي،ادویه جات ادویهٔ بیولوژیکي وطب حیواني (وترنري) و مواد سو خت.

۲ـ اتخاذ تدابیربه منظور صرفه جوئی مواد، سامان، مواد سوخت ونیروي برق حرارتي .

هـ : دروزنې او دکرنې دتبلیغاتو په ساحه کې :

۱ــ دکرنې دتجربو داغېزمن تطبیق په مقصد دتربیوي اوتحقیقاتي مؤسسو (ټولنو)جوړول اوپه تکړه مسلکي اشخاصو،دکارپه وسائطو اووسائلو دفترونواوودانی سره دهغوسمبالول.

دمنظمې څېړنې او تحلیل پربنسټ دعلمي او تحقیقاتي فعالیتونو لارښوونه ،دبوټو(نباتاتو)،څارویو او الوتونکو د پالنې له پلوه دتولیداتو دتخنیکي او اقتصادي معیارونو ټاکنه اوپه اغېزمنه توګه دهغو له نتیجونه د ګټې اخستلو دلاروچارو ټاکل .

۲ــ دعصري صنعت (تکنالوجي) له لارې داصلاح شویو نسلونو د تکثیر، دبوټو(نباتاتو)دبېلا بېلوجنسونو دګډولو اود څارویو او الوتونکو دښو نسلونوالقاح چې دهېواد له اقتصادي او اقلیمي شرائطو سره سمون ولري،او دکرنې دتولیداتودسطحې دلوړولو دلاروچارو تبلیغ اورواجول.

هـ :درساحهٔ تربیه وتبلیغات زراعتي :

۱ــ به منظور تطبیق مؤثر تجارب زراعتي،تأسیس مؤسسات تربیوي وتحقیقاتي وتجهیزآن بااشخاص ورزیدهٔ مسلکي،وسائط ووسائل کار دفاتر وساختمان.

رهبري فعالیت های علمي وتحقیقاتي متکي به تحلیل و ارزیابي منظم و تعین معیار هاي تخنیکي واقتصادي تولیدات از نگاه پرورش نباتات ،حیوانات وطیور وتعیین طرق استفادهٔ مؤثر از نتا ئج آن .

۲ــ تبلیغ وترویج طرق بلند بردن سطح تولیدات زراعتي،توسط صنعت (تکنالوجي) عصری تکثیرنسل های اصلاح شده تخلیط جنس مختلف نباتات القاح نسل های بهتر حیوانات وطیور که باشرائط اقتصادي و اقلیمي کشورسازګارباشد.

۳-دعلمي غونډودجوړولو له لارې دعلمي او تحقيقاتي ارزښتونو تبليغول، درپوټونو، رسالو او مجلو چاپول او په ورځپانو او جريدو کې دمضمونونو خپرول او داعلانونو،شعارونو او راډيوئي مرکو خپرول.

۴_ دکرنې،مالدارۍ،ځنګلونو،امارتي کروندو،دمېکانيزه مرکزونو (استيشنونو)اونورو اړوندو څانګودارتيا ورمسلکي کارکوونکو اوماهرانوروزل .

دامارتي کروندو،مېکانيزه مرکزونو او دنورو ادارودمامورينو لپاره دکرنې او مسلکي لنډې مودې زده کړې ددورو(کورسونو)جوړول .

و :له بهرنيودولتونواو نړيوالو مؤسسو سره داقتصادي ، علمي او تخنيکي اړيکو په ساحه کې :

۱-دشريعت په حدودوکې دقانون او مقرراتوسره سم دکرنې په اقتصادي، علمي اوتخنيکي برخوکې له بهرنيو دولتونو

۳- تبليغ دست آورد های علمي و تحقيقاتي به وسيلهٔ تدوير مجالس ومحافل علمي،طبع گزارشها رساله هاومجلات ،نشر اعلانات شعارها،مصاحبه های راديوئي ونشر مضامين در جرائد وروزنامه ها .

۴_ تربيهٔ کارکنان مسلکي ومتخصصين موردنياز در رشته های زراعت ومالداري ،جنگلات،مزارع امارتي ،مراکز ميکانيزه وسائر شقوق مربوطه .

تدوير دوره هاي آموزشي (کورس های) کوتاه مدت زراعتي و مسلکي براي مامورين مزارع امارتي، مراکز ميکانيزه وسائر ادارات.

و:درساحهٔ روابط اقتصادي،علمي وتخنيکي بادول خارجي ومؤسسات بين المللي :

۱_ عقد موافقتنامه های همکاری وکمک های مالی وتخنيکي بادول ومؤسسات خارجي در ساحات

او موسسو ســــره دمــالي او تخنيكـــي مرستو او همكـــاری دموافقـــه ليكونـــو لاسـليک.

۲- په هبواد کـــې دکرنـــې دتوليداتـــو داغېزمنتوب دلوړتياواودغـــه راز بهرتـــه دصادرولو وړ محصولاتو دزيـــاتوالي پـــه مقصد له نړيوالو اوبهرنيو موسسو ســـره دکرنې دپرمختيا په پلانونو کې د اړتيـــا وړشاملو مواد واو وســـائلو دپېرودونـــې دتړون لاسليک کول او داقتصـــادي او ټولنيزې پرمختياله پلانونـــو ســـره ســـم دتقنيني سندونو دحکمونوله په نظر کـــې نيولو سره دبهرنيومنابعودمجازوشـــرعي سپارښتنواجراء کول.

**دريم فصل**

**تشکيل اود فعاليتونو تنظيم**

**شپږمه ماده :**

دکرنې او مالداری وزارت په سر کـــې وزيردی چې دقانون له حکمونو سره سـم ټاکل کېږي .

وزيردهغـــه واک پـــه حـــدودو کـــې اجراآت کوي چې قانون اودغـــې مقـــررې

زراعتي،اقتصـــادي، علمـــي وتخنيكـــي درحدوداحكـــام شـــريعت مطـــابق بـــه قانون و مقـــررات .

۲-عقد قرارداد خريداري مواد ووســـائل مورد ضرورت شامل پلان های انکشـاف زراعت با موسسات بين المللي وموسسات خارجي به منظوربلند بـــردن موثريـــت توليدات زراعتي در کشور وهم در جهت ازديـــاد محصـــولات قـــابل صدوربـــه خارج،اجرای سفارشـــات مجازشـــرعی منابع خارجي،مطابق بـــه پـــلان هـــای انکشاف اقتصـــادي واجتمـــاعي بـــادر نظرداشـــت احکـــــام اســـــناد تقنينـــــــــــي مربـــــــــــرط.

**فصل سوم**

**تشكيل وتنظيم فعاليت ها**

**ماده ششـــم :**

درراس وزارت زراعـــت ومـــــالداري وزير قرار داشته که طبق احكام قـــانون تعين ميشـــود.

وزيردرحدودصلاحيتي که قانون وايـــن مقرره تعيين نموده،اجـــراآت مينمـــايد.

تاکلي دي دکرنې اومالدارۍ په وزارت پورې تړلې اړوندې اداري،تصدۍ او مؤسسې دوزير د اوامرواو لارښوونو په ترسره کولومکلفې دي .

**اوومه ماده :**

دکرنې او مالد ارۍ وزارت دوزيرله خوا رهبري کيږي او معينان لري وزير شخصاً په وزارت پورې اړوندو دندواومکلفيتونو دتر سره کولو مسئول دی .

دوزارت معينان اودڅانگو رئيسان او آمران دورسپارل شويو دندو په ترسره کولو کې فردي مسئوليت لري.

**اتمه ماده :**

دکرنې اومالدارۍ وزارت اداري شورئ لری چې وزير دهغې درئيس په توگه، دوزارت معينان اورئيسان اوداړوندو ادارو او مؤسسو آمران او مسؤل کادرونه يې دغړوپه توگه دي.

داداري شورئ غړي دوزير په وړانديزدوزيرانوشورئ له خوامنظوريږي.

تمام ادارات،تصديها ومؤسسات مربوط این وزارت مکلف به اجرای اوامر وهدایات وزير ميباشند .

**مادۀ هفتم :**

وزارت زراعت ومالداري از طرف شخص وزير رهبري گرديده و دارای معينان مي باشد. وزير شخصاً مسؤل اجراآت وظائف ومکلفيت های مربوط وزارت می باشد.

معينان، رؤسا وآمرين شعبات وزارت در پيشبرد وظائف محوله مسؤليت فردي دارند.

**مادۀ هشتم :**

وزارت زراعت ومالداري دارای شورای اداري بوده که شخص وزيربه حيث رئيس ،معينان،رؤسای وزارت ،آمرين وکادرهای مسؤل ادارات ومؤسسات مربوط به حيث اعضای آن ميباشد.

اعضای شورای اداری به پيشنهادوزير ازطرف شورای وزيران منظورميگردد.

**نهمه ماده :**

دکرنې او مالدارۍ وزارت اداري شورئ دوزارت اوداړوندو ادارو، تصديو اومؤسسو دفعاليتونو په اړه دغه لاندې مسئلې څېړي اولارښوونه ئې کوي :

۱ـ دکرنې، مالدارۍ، اوبولګولو ځنګلونو، څړځايونو، دبوټو دساتنې مېکانيزه امارتي کروندو او دکرنې او مالدارۍ وزارت دنورو فعاليتونو په ساحوکې دتوليدي او پرمختيائي پلانونو دعملي کولو په هکله دوزارت په اساسي فعاليتونو پورې داړندو مسئلو تحليل اوڅېړل.

۲ـ داقتصادي اغېزمنتوب دلوړولو په مقصد دکارله ځواک، مالي سرچينو اودپانګې اچونې له چارو نه په معقوله توګه ګټه اخيستل او دکرنې دتخمونو، کيمياوي سرې اود کرنې دنورو موادو او وسائلو تدارک او برابرول.

**مادهٔ نهم :**

شورای اداري وزارت زراعت ومالداری، مسائل ذيل را در رابطه به فعاليت های وزارت، ادارات، تصديها ومؤسسات مربوط بررسي ورهنمائي مي نمايد :

۱ـ بررسي وتحليل مسائل مربوط به فعاليت های اساسي وزارت مبني برطرح و تطبيق پلان های توليدی و انکشافي درساحات زراعت ومالداري، آبياري، جنگلات علفچرها، حفاظهٔ نباتات مزارع امارتي وسائر فعاليت های وزارت زراعت ومالداري .

۲ـ استفادهٔ معقول از نيروی کار منابع مالي، امورسرمايه گذاري، تدارک وتهيهٔ تخم های بذري، کود کيمياوي، سائر مواد ووسائل زراعتي به مقصد بلند بردن مؤثريت اقتصا دی.

**۳_ دتکړه مسلکي کار کوونکو دټاکنې له پلوه دکرنې او مالدارۍ وزارت داړتیا دتأمینولو دلارې دکاره اغېز منتوب دلوړوالي په هکله لارښوونه او دکارکوونکود مسلکي سوئې لوړول او روزنه .**

**۴_ دکرنې،مالدارۍ،اوبو لګولو ځنګلونو،څېړځایونو،امارتي کروندو مېکانیزه مرکزونو(استېشنونو) او دکرنې او مالدارۍ وزارت دنوروفعالیتونوپه برخوکې دعلمي اوتحقیقاتي پرمختګونو دعامولو په هکله لارښوونه.**

**۵_ دهغوقوانینو،مقررو، اساسنامو لائحواو طرزالعملونو تسوید ول چې دکرنې او مالدارۍ وزارت له خوا طرحه او تنظیمېږي .**

**۶_دکرنې او مالدارۍ وزارت دتشکیل او بودجې دکلني پلان څېړنه .**

**۷_ دکرنې اومالدارۍ وزارت داجراآتو دحالاتو څېړل او دچارو څارل.**

**۸_ دکرنې او مالدارۍ په وزارت**

۳_ رهنمائی در مورد بلند بردن مؤثریت کار به وسیلهٔ تأمین ضرورت وزارت زراعت ومالداري ازلحاظ تعیین کارکنان ورزیدهٔ مسلکي وبلند بردن سویهٔ مسلکي و تربیهٔ کارکنان .

۴_ رهنمائی درمورد تصمیم پیشرفت های علمي وتحقیقاتي درساحات زراعت و مالداري ،آبیاري،جنگلات علفچرها مزارع امارتي، مراکز (استیشن های)میکانیزه وسائر فعالیت های وزارت زراعت وما لداري.

۵_ تسوید قوانین،مقررات ،اساسنامه ها لوائح و طرز العمل هایکه از طرف وزارت زراعت ومالداري طرح وتنظیم میگردد.

۶_ارزیابي پلان سالانه، تشکیل وبودجهٔ وزارت زراعت ومالداري.

۷_ بررسي وضع اجراآت ومراقبت اموروزارت زراعت وما لداري.

۸_ استماع گزارش های آمرین

پوري داړوندو ادارو،مؤسسو او ځانګو دآمرانو د ريوټونو اوربدل او دهغو نورو مسئلواجراء کول چې دوزير له خوا سپارل کيږي.

**لسمه ماده :**

دداري شورئ تصميمونه داسلامي اصولومطابق درايوپه اکثريت نيول کيږي او دکرنې او مالدارۍ په وزارت پورې په تړلو اړوندو ادارو،تصديو او مؤسسوباندې دعملي کولو وړدي.

**يوولسمه ماده :**

دکرنې اومالدارۍ وزارت کولی شي ديوه معين په مشرۍ او دعلمي او مسلکي اشخاصو په ګډون علمي او مسلکي شورئ جوړه کړي.ددغې شورئ ددندو او واکونوحدود دلائحې په واسطه ټاکل کيږي.

**دوولسمه ماده :**

دکرنې او مالدارۍ په وزارت پورې اړوندې ادارې او مؤسسې کولی شي د کار د اغېزمنتوب د لوړولو او

ادارات،مؤسسات وشعبات مربوط وزارت زراعت ومالداري وانجام سائر مسائلی که توسط وزير راجع ميگردد.

**مادۀ دهم :**

تصاميم شوراى ادارى طبق اصول اسلامى به اکثريت آراء اتخاذ ميگرددوبالاى کليه ادارات،تصدي ها ومؤسسات مربوط وزارت زراعت ومالداري واجب التعميل است.

**مادۀ يازدهم :**

وزارت زراعت ومالداري ميتواند شوراى علمي ومسلکي راتحت رياست يکي ازمعينان به اشتراک اشخاص علمي ومسلکي ايجادنمايد. حدود وظائف وصلاحيت هاى شوراى مذکور،توسط لائحه تعيين ميگردد.

**مادۀ دوازدهم :**

ادارات ومؤسسات مربوط وزارت زراعت ومالداري ،ميتوانند به منظوربلند بردن مؤثريت وفراهم ساختن تسهيلات کار

دآسانتیاوودبرابرولوپه مقصددکارد ماهیت سره سم داداري دآمرپه مشری او دارونډو مسلکي مامورينو په ګډون په خپلوادارو کې دماهرانو ځانګړې مسلکي هيئت (کميسيون )جو ړکړي .

دماهرانو د مسلکي هيئت (کميسيون)غړي اوددندو لائحه داداري شورئ له خواتصويب او دوزير له خوا منظوربېږي .

## څلورم فصل
## و روستني حکمونه

**دیارلسمه ماده :**

دکرنې اومالدارئ وزارت مهرلري چې په هغه کې دافغانستان اسلامي امارت نښان اودوزارت نوم درج شوی دی.

**څوارلسمه ماده :**

دغه مقرره دتو شیح له نیټې څخه نافذه او په رسمي جريده کې دې خپره شي او ددغې مقررې په نافذېدو سره د کرنې اودځمکو داصلاحاتو وزارت داجراآتو او فعاليتونو دتنظيم هغه مقرره چې د ۱۳۶۰ هجري لمریز کال

مطابق به ماهیت کار هیئت متخصصین (کمیسیون)مسلکي جداګانه رادر ادارات خویش تحت رياست آمر اداره به اشتراک مامورين مسلکي مربوط تأسيس نمايند. اعضا ولائحهٔ وظائف هيئت متخصصين (کميسيون)مسلکي توسط شورای اداری تصويب وازطرف وزير منظور ميګردد.

## فصل چهارم
## احکام نهائي

**مادهٔ سيزدهم :**

وزارت زراعت ومالداری دارای مهری میباشد که در آن نشان امارت اسلامي افغانستان ونام وزارت درج شده است .

**مادهٔ چهاردهم :**

این مقرره از تاريخ توشيح نافذ ودر جريدهٔ رسمي نشر ګردد وبا انفاذ آن مقررهٔ تنظيم اجراآت وفعاليت های وزارت زراعت واصلاحات ارضي منتشرهٔ شمارهٔ(۵۰۱)مؤرخ پانزده دلو سال

# رسمي جريده



دسلواغي دمياشتي په پنځلسمه نيټه چې د ۱۳۶۰ هجري شمسي درسمي جريدې په (۵۰۱) ګڼه کې خپره شوې ده .لغوه بلل کېږي .

جريدهٔ رسمي ملغي شمرده ميشود.